FEBRUARY 2024

ISSUE 66

# NEW HOME نوی کور خانه نو

*NEW HOME comes from Sahan Journal, a nonprofit newsroom in St. Paul, and it's reported and written by Hussain Ali Haidari.*

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی





Photo Credit: Hussain Ali Haidari

## افزایش سرقت موتر در امریکا؛ سال گذشته به طور اوسط ۸۰ موتر از شهر شیکاکو دزدی شده است

- سرقت موتر در مینه‌سوتا نسبت به سال‌های گذشته کاهش یافته است
- چندین سگ به یک دختر هفت ساله در شهر سینت‌پال حمله کردند
- اتحادیه آموزگان شهر سینت‌پال روز پنج‌شنبه اعتصاب خواهند کرد

## خبرهای مرتبط به افغان‌ها در مینه‌سوتا

### چندین سگ به یک دختر هفت ساله در شهر سینت‌پال حمله کردند

پولیس شهر سینت‌پال ایالت مینه‌سوتای امریکا می‌گوید که یک گروه از سگ‌ها ساعت پنج پس از چاشت روز پنج‌شنبه هفته روان به یک دختر هفت ساله در ساحه بلاگ ۶۰۰ در جاده ون بورین این شهر حمله کردند. به نقل از پولیس، سگ‌ها چندین قسمت از پاها و سر این دختر را دندان گرفته است. این دختر، همراه مادرش در حال قدم زدن و در نزدیک ایستگاه بس شهری بوده‌اند. پولیس می‌گوید که دختر شدیداً زخمی شده و برای درمان به شفاخانه کودکان مینه‌سوتا انتقال یافته است. در همین حال، تا هنوز پولیس موفق به شناسایی و بازداشت این گروه سگ‌ها نشده است.

### اتحادیه آموزگان شهر سینت‌پال روز پنج‌شنبه اعتصاب خواهند کرد

اتحادیه آموزگاران شهر سینت‌پال ایالت مینه‌سوتا اعلام کردند که روز پنج‌شنبه، پانزدهم فبروری به دلیل افزایش نیافتن معاشات‌شان اعتصاب می‌کنند. این اتحادیه خواهان افزایش ۷ هزار و ۵۰۰ دالر در سال روان استند و هم‌چنان خواستار افزایش ۷.۵ درصد در سال آینده استند. نهادهای مسوول در سال روان حدود ۱.۷۵ درصد معاشات آموزگان را برای سال روان و سال آینده میلادی افزایش داده است. با این حال دیده شود که پس از این اعتصاب تغییری در این آمار به وجود می‌آید یا خیر.

لطفا پرسش و موضوعات مرتبط به افغان‌ها را از طریق شماره زیر با ما شریک کنید
**651-504-8170**

### افزایش سرقت موتر در امریکا؛ سال گذشته به طور اوسط ۸۰ موتر از شهر شیکاکو دزدی شده است

در دو سال گذشته افزایش سرقت موتر در امریکا به شکل کم‌پیشینه‌ای افزایش یافته است. سارقان بیش‌تر موترهای شرکت کیاس و هندایس را هدف قرار می‌دهند. سال گذشته، دزدان به طور متوسط ۸۰ موتر را از شهر شیکاکوی امریکا دزدی کرده‌اند. با این حال نیروهای امنیتی در مینه‌سوتا می‌گویند که سرقت موتر در این ایالت نسبت به سال‌های گذشته کاهش یافته است. دلیل این کاهش، حضور فعال نیروهای امنیتی برای جلوگیری از سرقت موترها عنوان شده است. جیف آشیر، تحلیل‌گر جرم می‌گوید که در تابستان سال ۲۰۲۲ ویدیویی در تیک‌تاک نشر شد که در آن روش جدید سرقت موترهای کیاس و هندایس را آموزش می‌داده است. آشیر می‌گوید که این ویدیو پس از چند هفته از تیک‌تاک حذف شد، اما این مدت برای دزدان موتر فرصت کافی بود که آن را بیاموزند. در همین حال ارنستو لوپز، کارشناس تحقیقات در شورای عدالت کیفری امریکا می‌گوید که تشویق و مهارت سبب می‌شود که یک تعداد زیاد افراد دست به سرقت موتر بزنند. به گفته لوپز، در حال حاضر اکثر افراد در امریکا می‌دانند که چگونه یک موتر را دزدی کنند. وی اضافه کرد: «ویدیویی که در تیک‌تاک نشر شد، بسیاری جوانان را تشویق کرد که دست به دزدی بزنند، این ویدیو سبب شد که یک تعداد جوانان موتر دزدی کنند و ویدیوی آن را در رسانه‌های اجتماعی نشر کنند، تا دیگران ببینند که با چه سرعتی این کار را انجام داده‌اند.» یک گزارش شورای عدالت کیفری نشان می‌دهد که افزایش دزدی موتر در امریکا نسبت به سال ۲۰۱۹ دو برابر شده است. در پیوند به افزایش موتر، اخیراً، ۱۸ دادستان نامه‌ای به اداره ملی ایمنی ترافیک بزرگ‌راه‌ها ارسال کرده و خواستار برگرداندن موترهای دزدی شده، شده‌اند. کیاس و هندایس دو شرکتی استند که دزدان بیش‌تر آن را در امریکا هدف قرار می‌دهند.

FEBRUARY 2024

ISSUE 66

NEW HOME نوی کور خانه نو

*NEW HOME comes from Sahan Journal, a nonprofit newsroom in St. Paul, and it's reported and written by Hussain Ali Haidari.*

**خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است**

**نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی**




Photo Credit: Hussain Ali Haidari

# په امریکا کې د موټر غلا زیاتوالی؛ تېر کال له شیکاګو څخه په اوسط ډول ۸۰ موټر غلا شوي وو

- په مینه‌سوټا کې د موټرو غلا د تیرو کلونو په پرتله کمه شوې ده
- په سینټ‌پال ل کې څو سپو په یوه اوه کلنه نجلۍ برید وکړی
- د سینټ‌پال د ښوونکو اتحادیه به د پنجشنبې په ورځ اعتصاب وکړي

## د افغانانو اړوند خبرونه

### په سینټپال کې څو سپو په یوه اوه کلنه نجلۍ برید وکړی

د امریکا د مینه‌سوټا ایالت د سینټپال د ښار پولیس وايي چې د سپو یوې ډلې د پنجشنبې په ورځ سهار پنځه بجې د دغه ښار د وان برن روډ په ۶۰۰ بلاک سیمه کې پر یوې اوه کلنې نجلۍ برید وکړی. د پولیسو په وینا سپیو د نجلۍ د پښې او سر څو برخې داړلې دي. پیښه هغه مهال رامنځته شوې ده کله چې دا نجلۍ له خپلې مور سره د ښار بس تمځای ته نږدې روانه وه. پولیس وايي چې نجلۍ سخته ټپي شوې او د درملنې لپاره د مینیسوټا د ماشومانو روغتون ته وړل شوې ده. تراوسه پوریپولیس د سپیو د دغې ډلې په پیژندلو او نیولو نه دي بریالي شوي.

### د سینټپال د ښوونکو اتحادیه به د پنجشنبې په ورځ اعتصاب وکړي

د سینټپال مینه‌سوټا ایالت ښوونکو اتحادیې اعلان وکړ چې دوی به د پنجشنبې په ورځ ، د فبروري په ۱۵ د معاشونو د نه زیاتوالي له امله اعتصاب وکړي. دغه اتحادیه په روان کال کې ۷ زره او ۵۰۰ ډالره زیاتوالی غواړي او په راتلونکي کال کې هم ۷.۵ سلنه زیاتوالی غواړي. په روان کال کې مسوولو بنسټونو د روان کال او راتلونکي کال لپاره د محصلینو معاشونه شاوخوا ۱.۷۵ سلنه لوړ کړي دي.
دا به راتلونکې ځواب کړي چې ددغه اعتصاب وروسته به په ټاکلی شوي رقم حساب کې بدلون راشي او کنه؟

### په امریکا کې د موټر غلا زیاتوالی؛ تېر کال له شیکاګو څخه په اوسط ډول ۸۰ موټر غلا شوي وو

په تېرو دوو کلونو کې په امریکا کې د موټر د غلا کچه په بې ساري ډول لوړه شوې ده. تر ډېره پورې غله دکیاس او د هیونډیس کمپنۍ موټرونه غلاه کوي. تېر کال غلو د امریکا له شیکاګو ښار څخه په اوسط ډول ۸۰ موټر غلا کړي وو.  خو د مینیسوټا ایالت امنیتي ځواکونه وايي، چې په دغه ایالت کې د موټر غلا د تېرو کلونو په پرتله کمه شوې ده چې لامل ې د امنیتي ځواکونو فعاله حضور دی. د جرمونو شنونکی جیف ایشر وايي چې د ۲۰۲۲ په دوبې کې، په ټیک ټاک کې یوه ویډیو خپره شوه اوپه یاده ویډیو کې د کیاس او هیونډیس غلا کولو نوې میتود ښوونه شوې وه. ایشر وايي ویډیو د څو اوونیو لپاره هلته پر ټیک ټاک پرته وه او ورسته پاکه شوې وه خو په خبره یې دغه څو اوونۍ د غلو لپاره د زده کړې کافي وخت وه. په همدې حال کې د امریکا د جنايي عدالت د شورا د څېړنو کارپوه ارنستو لوپز وايي، هڅونه او مهارت د دې لامل کېږي چې ډېر خلک د موټرونو غلا وکړي. لوپز وايي اوس په امریکا کې زیاتره خلک پوهیږي چې څنګه موټر غلا کړي. هغه زیاته کړه: «په ټیک ټاک کې خپره شوې ویډیو ډېری ځوانان غلا کولو ته هڅولي، دا ویډیو د دې لامل شوې چې یو شمیر ځوانان موټر غلا کړي او ویډیو یې په ټولنیزو رسنیو کې خپره کړي، ترڅو نور خلک وګوري چې دوی څه ډول غلا کوي"دوی دا په چټکۍ سره ترسره کړل.» د جنايي عدالت شورا یو راپور ښيې چې په امریکا کې د موټر غلا کچه د ۲۰۱۹ راهیسې دوه چنده شوې ده. د موټرونو د زیاتوالي په تړاو ۱۸ څارنوالانو په دې وروستیو کې د لویو لارو د ترافیکو خوندیتوب ملي اداري ته مکتوب استولی چې د غلا شویو موټرو د بېرته ستنېدو غوښتنه یې کړې دکیاس او د هیونډیس دوه هغه شرکتونه دي چې په امریکا کې د غلو لخوا په نښه شوي.

نوي کور؛ په امریکا کې د افغانانو لپاره یو خبري خدمت دی